بادام ګرده شيندل
(د نباتاتو القاح)

ټيلفون: 977-758-0799 برېښناليك:**javid.hamidzada@rootsofpeace.org**

ګرده شيندل څه شی دي؟

ګرده شيندل د يو بوټي يا ونې د نارينه برخې څخه د يو بوټي يا ونې ښځينه برخې ته ګډل د ګردې ليږد ته وايئ.

د ګردې شيندل ولې مهم دي؟

ګردې شيندل د خستو شمير، حاصلاتو او کېفيت ته وده ورکوي. د بادام ونې به ټوليزه"ډګه پخپله نه القاح کيږي. له دې کبله د شهدو مچی ګردې توليدوونکو (نرانو) څخه ګرده هغو ونو ته چې ډېر حاصل کوي (ښځينه ونې) او ډيرې ګردې ته اړتيا لري، ليږدوي.ټولګلان بايد يو بل سره ګرده تبادله کړي ترڅو اعظمي حاصل لاس ته راشي.

د شهدو د مچيو په هلکه

مچی معمولاً د القاح (ګردې شيندلو) لپاره کارول کيږي. مچی لاندي شرايطو ته:

- د توخې توده درجه (د سانتيګراد د ۱۳° څخه لوړه)
- لمريزه هوا (لږ يا هيڅ باران) او
- آرام حالت (مچې هغه باد خوښوي چې د ۲۴ کيلومټره پرساعت څخه يې چټکتيا لږه وي)

د ښه حرکت او په زړه پورې ګردې شيندلو لپاره اړتيا لري. د ونېيو د غوړيدو پرمهال سړه او طوفاني هوا کولای شي چې د مچيو د الوتلو مخه ونيسي او په پايله کې د حاصلاتو کچه ټيټه کړي. ډيرې مچی د خپلو ځالو په ۹۰-۱۸۰ متری ساحه کې فعاليت کوي.

د افغانستان لپاره د شهد د مچيو د کنډوليو (صندقونو) ځای پرځای کول

- د هر جريب (۲۰۰۰مربع متره) لپاره دوه صندقه ۱۶۰ متره يو له بل څخه لري.
- هر صندق بايد د ۴۰۰۰-۵۰۰۰ پوري کارګرې مچی ولري.
- هر صندق بايد د مچيو يو پنډوسکی د باسکيټ بال په اندازه ولري، يا په هر معمولي صندق کې بايد ۹ تختې عمودې چوکاټونه د هګيو لپاره ولري (چوکاټونه: ۵۰ x ۷۰ سانتي متره)- چې يوه فعاله ملکه يې د ۶-۸ چوکاټ چې ښه پوښل شوي وي پر هګيو کښيني. (د هګيو د چوکاټ تصوير په کېڼه خوا کې).
- صندقونه بايد ګلانو د پيل (ګلابي غوټۍ) څخه د ترهغه وخته پوري چې ټولي غوټۍ (۱۰۰%) ګډ کولو له پړاو څخه تيرې شي په بوزغلي کې پاتې شي.

نورې سپارښتنې

- د اصلي ونو د هرو دوه ليکو (قطارونو) لپاره د يوې ليکې القاح کوونکو ونو څخه کار واخلئ.
- پګاندېو ځمکو کې د حشراتو ضد درمل استعمال اغيزي د مچيو د شمير او ګرځيدو د کمښت سبب کيداي شي.

د جان ډرايور، کورکي لوين او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، د نړوالی د پرمختيا پروګرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابل ټيليفون 794677212 (0) 93+، zach@rootsofpeace.org

ددې خپرونې د محتوي مسؤليت په بشپړه توګه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايي اتحاديې د نظر ځرګندويه نه ده.

د خپرېدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي ټول حقوق خوندي دي.

د ډيرو معلوماتو لپاره د: www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu مراجعه وشي